اې خلکو، سلام خپور کړئ، خواړه ورکړئ، خپلولي وپالئ او د شپې په داسې حال کې لمونځ کوئ چې خلک وېده وي، نو جنت ته به په سلامتۍ سره داخل شئ

له عبدالله بن سلام رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته راغی نو خلک یې مخې ته ورټول شول او داسې ویل کېدل چې: د الله رسول صلی الله علیه وسلم راغلی! د الله رسول صلی الله علیه وسلم راغلی! د الله رسول صلی الله علیه وسلم راغلی! درې ځلې. نو زه په خلکو کې ورغلم چې ویې ګورم، کله چې ما د هغه مخ ولید نو پوه شوم چې د درواغجن سړي مخ نه دی، نو لومړی شی چې ما له هغه څخه واورېد دا و چې ویې ویل: «اې خلکو، سلام خپور کړئ، خواړه ورکړئ، خپلولي وپالئ او د شپې په داسې حال کې لمونځ کوئ چې خلک وېده وي، نو جنت ته به په سلامتۍ سره داخل شئ».

[صحیح دی] [او ابن ماجه او احمد روایت کړی دی]

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته راغی او خلکو ولید، نو خواته یې ورچاپېک شول، له دوی څخه یو تن عبد الله بن سلام یهودی هم و ، نو کله یې چې ولید، پوه شو چې مخ یې د درواغجن سړي نه دی، ځکه چې رښا، ښکلا، وقار او ریښتینولي پکې له ورایه بریښېده. نو لومړی هغه څه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې واورېدل دا و چې خلک یې داسې کارونو ته هڅول چې جنت ته د داخلېدو لامل ګرځي لکه: لومړی: د سلام ډالۍ خپرول، دا صفت په ډاګه کول او د هر چا پر وړاندې یې زیات کارول که هغه پېژنې او یا نه. دویم: په صدقې، ډالیو او میلمه پالنې سره خواړه ورکول. دریم: له هغه چا سره اړیکې پالل چې د مور او یا پلار له اړخه دې خپلوان وي. ځلورم: د شپې لمونځ په داسې حال کې چې خلک ویده وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5520